مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست
۲۰۲۶/۰۱/۰۶

# دریمجنسي او غیرتيبرېتور

پېښور کې بیا کوم برېتور یو مظلوم خواجه سرا ( نر ښځی) ویشتلی او وژلی دی.
له دې ذات سره، سره له دې چې د نورو انسانانو په څېر د خپل جنس په ټاکلو کې هیڅ د انتخاب حق نلري، سخت زیاتی روان دی.

دا زیاتی، د هغوی له خپلو کورونو شروع کېږي او بیا همداسي ټولنه کې دوام پیدا کوي.

مثلا:

مور و پلار یې د اولاد په څیر نه ګڼي، ورونه خویندې یې نه قبلوي، د دوی زیږدا د خپل شان بې عزتي ګڼي. له کوره یې وشړي او د هوس د وږو لیوانو تورو پنجو ته یې حواله کړي.

بیا یې د ګناه او فحاشی مرجع ګڼي او قتل ته یې پلمي لټوي
خو هیڅوک په دې فکر نکوي، چې دوی د فحاشی ګندګی ته څوک ټېله کوي؟

ښه، دا یې فاحشه، دا یې د ګناه صندوقچه، خو اوس دا پوښتنه ولې نه کېږي چې د دې فاحشي مشتریان څوک دي؟ څوک یې مراجعین دي؟ څوک یې د فحشا خریداران دي؟...

هغوی ولې معاف دي؟ ولې ترې نفرت نه کیږي؟

کاش،

اخوا واعظانو، مدني فعالانو، د قانون حامیانو او نورو صاحب رسوخ خلکو په ټول جدیت دا ذهنیت عام کړی وای چې دا دریم جنس هم د ستر ذات د قدرت نښي دي. دا د هغوی خپل انتخاب نه دی.
فلهذا، کورنیو ته یې دا شعور ورکړی وای چې دوی هم خپل اولادونه وګڼي، له شړلو یې ډډه وکړي او په لوی لاس یې د هوس د وږو لیوانو اذوقه و نه ګرځوي..

هغوی دې پرېښودل شي چې خپلو کورنیو او ټولنو کې د نورو انسانانو په څېر د عزت ژوند ولري .
هغوی ته دې اجازه ورکړل شي چې د نورو وګړو غوندې د ټولنې د فعالو او خیر رسانه غړو په توګه ژوند وکړي.

پوهیږئ!؟

د دې هر ارایش شوي مخ شاته په سلګونو د مجبوریت او جبر بدرنګه کیسي پرتې دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په غیر و لولئ